نصیراحمد مهمند                                                                                    سدنی آسترالیا، ۲۰۱۳/۰۶/۲۷

# د افغانستان د روانـــی بهی
## عوامل څه دی او مسؤول څوک دی؟

نـــــه خلاصیری له وختوله انتقامـــــه                    راغورځیری هرظالم له هسکه بامه
مونږه ټوله نری خلاصه له خطره کړه                    خو پـــــخپله مونږپاتې شو نـــــــارام

دوهمه برخه

لنډه تاریخی پس منظر: دتاریخی اسنادوڅخه واضح کیږی چی دافغانانوهیوادپه اوایلوکښی دآریانا په نوم یادیده اوپه اټکلی ټوګه دننی افغانستان په نسبت ددوه چنده پراخوالی او مساحت په درلولودلوسره په مینځنی آسیا کی یو مهم سیاسی قدرت ګڼل کیدله ، هماغسی چی داوستاداعتبارو سندونوڅخه څرګندیږی چی دا اوستایی خاوری دسیردریا او دسند دهانی دهند په اوقیانوس او دلوط ددښت په مینځ کی یو هیوادتشکیل کړی وچی په همدغه مهال دآریاناپه نوم شهرت درلود اوپیژندل کیدله .
همدا راز داوستایی سندونوله مخی دآریاناهیواددختیځ له طرفه دګاګت له سیمی نه ترهند اوقیانوس چی دسند ټولی حوزی پکښی شامل وو، اودختیځ لویدیځ له ګوښی نه دکسپین دبحیری نه شروع او دبلوچستان نه تیریده اوبیرته دهند په سمندر کی وصل یا یوځای کیږدله . یه همدی رنګه دشمال له پلوه په سیردریا«سیحون»اودجنوب لخوادهندیپه سمندرکی محدود و، داوستا ددغه سندونو پربنست دوه مشهورتاریخ لیکونکی)احمدعلی کهزاد» او «حسن پیرنیا»پخپل آثاروکی لیکی چی هغه مهال دآریاناهیوادداری تشکیلاتوپربناء په لاندی شپاړلس ولایتونو نه ویشل شوی و چی نومونه یی په لاندی ډول ذکرشوی:
آریانا ویجو « دآمودریاوسیردریاپه مینځ کی ».
بخدی «بلخ»
سغده «سغدیان»
نیسایا «میمنه»
هرویوه «هرات»
ویکرانه «دکابل حوزی»
اوردا « هغه غرنی اراضی چی دکندهاراوسند په ساحه کښی پراته دی ».
خننتا «ګرګان»
هره وتی «دارغنداب سیمی»
هیومنت «هیرمند»
راغا «بدخشان»
ګخره «غزنی»
رانګا «ځینی مورخین دغه ځای ته سیرذریا معرفی
وارنا «بامیان »
هپتاهندو «دسندحوزی»
یادونه:استخراج شوی له دوه پورتنی منبعوڅخه.
دغه خاوری دپیرواوړدی کلونودپاره پدی ډول دلوړی شان اودبدبی اونه یوازی دآریایی دلوی مدنیت ځانګو وه، بلکی دلویولارونوپه درلودلوسره دسوداګرو، سیلانیانوتوریزم اودنوروخلکواو اړیکو دپاره ښه زمینه برابره کړی وچی د«ورېښم مشهوره او لویه لاره» چه د ختیځ او لویدیځ دپاره دسوداګری او راکړه ورکړه خورا ډیر مهم لاروله همدی خاوری نه تیریدلواودبلخ ښارچی په مینځنی آسیایی مناطقوکښی مرکزیت درلوددهندی، چینایی، اواروپایی تجارتی توکو دپاره دتبادلی یا راکړه ورکړه«لکه ننی دوبی» غوندی مهم او دباوروړمرکزوو. اوله همدی لامله دخپل ماحولونقاطودفلسفی اومذهبی نظریاتواوعقایدودتبادلی سبب هم وګرځید، چی داوضعیت دیولړواړه اولویوتحولاتوسره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دوام درلود،ترڅو چې دمیلاد نه مخکښی ددریم پیړی مقدونی اسکندر«الکساندرalexander» چې دمقدونیی دپاچا «فلیپ phliep» ځوی و اوکله چې پلار یی ووژل شول ځوان اسکندر پرځای یی کیناست .
اسکندر دپلار له طرفه ځانته «هرکولیس یا دقدرت رب النوع» ویل او دمورله طرفه « آشیل یا د یونان افسانوی اتل یا قهرمان » ګڼل، تند مزاجه مبارز سړی اودنامتو فیلسوف«ارسطو» شاګرد هم و اوهمیشه دجهانګیری اواتلوالی په فکر او خیال کی وو. نوموړی کله چې دننی ایران له لاری پرافغانستان هجوم راوړ اویرغل وکړ. سره له دی چی پدغه مهال کښی پدی خاوره کی یو مرکزی واحد اداره اوحکومت موجود نه وه، خو له دغی حالت سره سره بیاهم ددی هیواد اصیل بچیان دخلکو په مټ وتوانیدل چې مهاجمینوته دڅلوروکالودپاره دکلکی مبارزی او مقاومت او د ډول ډول مشکلاتو اوستونزو سره مخامخ اوکمزوری کړی، چې همدا مصروفول اوکمزورتیا سبب شول چه تر ورځه کمزوری شی اوبالاخره دیولړ نوروعواملو ترڅنګ دځوان سکندر دمرګ سبب او ددوه پیړش کلنی په عمرکښی مړشی. دذکروړ ده چی دظالم اومتجاوز ځواکونوپه مقابل کی دافغانانو دهیوادپالنی روحیی ،میرانی اوسخته مقاومت نه سکندرډومره په تعجب او په عین زمان کښی په تشویش شول چې ددی خلکو ممیزات او ددی خاوری دنمونی په استولوسره داستازو په ذریعه خپلی مورته وویله اودخپلی بی وسی او کمزورتیا په هکله مرسته اومشوری وغوښتل چې داټول ماتی ماجرااوکارنامی دتاریخ په پاڼو کښی ثبت دی او پرهمدی بناء اروابناد الفت صاحب پخپل شعرکی په ډیر لوړه ګچه یی انځورکړچی یوه مصراع یی په لاندی ډول دی:

هزارخم می مست نکند مستان را چنانچه ذره خاکی وطن پرستان را

دسکندرمقدونی په راتلو سره چې یو زیات شمیر یونانیان «greeks» پدی سیمه کی چه راغلی و دنوموړی دماتی اومړینه یی وروسته همدلته پاتې اومیشته شول. ددوی په یوځای کیدلو سره ددعه ټولنی په فرهنګی، فکری او ټولنیزوژونداته باندی اغیزه واچوله او په پایله کښی یونانیان باختریان شول اوددی سیمی دخلکو په مینځ کښی یو نوی مدنیت د« یونانوباختری» په نامه بنسټ کیښودل شوچه د«ګریکو بودیک » یا «یونانو باختری تمدن»هم ددی سیمی دتاریخی دوروڅخه ګڼل کیږی چې دلسوپیړیو په اوږدوکښی په دی هیواد کښی وځلید اودیوباختری دولت په نامه ونومول شول.
داووم اواتموپیړیو « قرون وسطی» کله چې داعرابوحملات او راتګ په مینځنی آسیایی هیوادونوکښی پیل شول ،دباطلو بت پرستو ادیانو لکه زردشتی، بودایی، نستوری اونوروچې داوږدی زمانی او کلونوکلونورا پدی خواپدی سیمه کښی ریښی او رواج درلود، له مینځه لاړل اوداسلام مبین دین دیونړیوال او ستر ځواک په توګه استقرارومومند، دتیرو ټولنیزواوتقافتی وضعی دخپل نفوذ لاندی راوړ او دنوی مدنیت بنسټ کیښود. زمونږپه هیواد کښی بی نوی فصل رامینځته شول اوهیوادیوځل بیا دآریانا او باختری طبعی او سیاسی واک، وسعت اوحدوداتونه چې له لاسه وتلی او پاشان شوی وبیرته احیا اوترلاسه کړ اودانوی داسلام مبین آیین له مونږ هیواد او زمونږ دخلکو پّه وسیله ګاوندیواودسیمی نورو ولسونو اوهیوادونوته خپاره او ورسول شول او دګمراهی او باطل پرستیو نه وژغورل شول.

له هغه زمانی نه چې اسلام او مسلمانی پدی خاوره کی مسلط شول یو شمیر واره حکمرانان او لو ی نامتوپاچاهان پدی خاوره کی حکمروایی کړیده چې ځینی ښایسته اونیکی کرونه کړیدی چه زمونږ دتاریخ اوتیرژوندانه کښی ویاړلی فصل او باب تشکیلوی او ددوی دکارنامولـه برکته دآسیایی هیوادونوپه کتارکی دفرهنګی، کلتوری، سیاسی او سودا ګری په برخو کښی ډیر ارزښتناکه اولوړځای اومقام ګڼل شویدی. مګر په خواشینی سره چه برعکس یی هم یو شمیر ددغه حکمرانانو اوپاچاهانودغباوت له مخی ددبدوکارنامو په وجه دخلکو اوخاوری دژونداوارضی بشپړتیا په اړوند لویی جفا ګا نی هم شویدی چې دتاریخ توری پاڼی تشکیلوی چه دهر یویی جفاګانی اوخیانتونوپه اړه په وخت او زمان یی دخلکو داوری اوقضاوت د تاریخ په زړه کښی ثبت او محفوظ دی . دا چې اوس هڅی روانی دی چی تورسپین وښایی او دغل نه اتل جوړ کړی دا د زمانی جبر او دنړی خوربی سیال او ظالم ښکیلاکی زبر ځواک دغو دنفتو لیونیان «دبوش کورنی اوسیاسیی پلویانن اولوبغاړو »او«چنجchange »یا بدلون ترنامه دامریکا ولسمشر« بارک حسین او باما»غوړونکی پالیسی دی چه هغه خپله یوبیل اولوی بحث اوموضوع دی او ایجاب کوی چه په چلا مبحث پری خبری وشی. خومونږپه ځغلنده کتنی سره دابدالیانوراپیدخوادخپل خلکواوهیوادپه اړونداجنبی بهرنی غلیمانواو ډوی کورنی او سیمه ایزوغلامان اومعامه ګرودبله ماران اوضاع او احوال ځیرو.
کله چه داتلسم میلادی پیړی کښی احمدخان ابدالی ددی خاوری په پاچاهی وټاکل شو، یوواحد ټولواک، ځواکمن سلطنت مینځ ته راوړل اودی وتوانیدچه دخپل هیوادګډوډحالت اوخپل خاوری اصلی پراخوالی،طبعی اوسیاسی حدودات بیرته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

دافغانستان په نوم احیا کړی. همدلته پرځای دی ذکر وشی چه لرغونی افغانستان دتاریخی قدامت اوسابقی په درلودلوسره دکورنی اوبهرنی ځواکونود حکمروایی په مهال دمختلفووسعت اوسیاسی حدوداتوسره سره خپله ملی پیوستون، سیاسی او ټولنیزوشته والی دیوخپلواک ولس اوهیوادپه توګه ساتلی دی اودښمنانوته مرګونی ګوذارونه ورکړیدی . دافغانستان خاوری وسعت ، طبعی اوسیاسی حدودات داحمدشاه درانی د زمامداری پرمهال دشمال لخوا په ماورای آمواودجنوب له طرفه دعربو په بحیره اودعمان خلیج او دختیځ له پلوه تردهلی پوری امتداد درلود. چه دغه وضع ډیردوام ونکراودوروستی کالونودکورنی نفاق چه دورونوپه مینځ یعنی احمدشاه اوخوی یی تیمورشاه زامنو ترمینځ او دوه قام بارکزی او سدوزی ترمینځ اختلافات او کینه توزی سبب شول چه دختیځ لخوا انګلیسانوته اودشمال له طرفه تزاری روسانو ته دېرمختګ شرایط ګړندی شی او دنونلسمی پېړی کله چه تزاری روسان او انګلیسان دخپل مستعمراتوحدود دافغانستان تر شمالی ، ختیځ اوجنوبی سرحدونوته ورسول ، افغانستان هم په ناګذیری اومجبوریت له وحهی نه داروپایی دولتونودسیاست ډله او ډګر ته داخل شول او له همدی مهال وروسته افغانستان دخپل مهم جغرافیایی او سوق الجیشی موقعیت له نظره تقریبا دیونیم پیریو په شاوخواکی دلویو ښکیلاکی قدرتونودسیاسی مجادلو اوسیالیو دپاره «لکه اوس مهال»ډګر وګرځید چه دافغانستان ګاوندیان یو پر بل پسی ددغه دوه قوی لخوا مضمحل کیدله ، خو افغانستان وتوانید چه ددښمنانو دهځی او تلاشونوسره سره تراخری سلګی پوری مقاومت وکړی خپل هویت او آزادی وساتی۰مګر دډیرومجاهدتونو سره سره بیا هم دافغان یولړ مهموخاوری که په شمال و او که په جنوبی او شرق سیمو زمونږ دخاوری له پیکره جلا شول اوزمونږهیواد دیومحاط په وچه هیواد بدل شول.

دتاریخ دپاڼوپه شهادت وروسته له دی چی د۱۱۶۰هجری=۱۷۴۷میلادی کال نادرافشاردخپلومعیتی ملګرویعنی قزلباشان او افشاریانوله ډلی له خوانه ووژل شول، احمدخان ابدالی د دری زره خپل ابدالی او ازبکوافغان اردوپه قیادت اوملګرتیا ننګه وکړه او دنادرافشارپه میدان پاتی حرم اوکډوالوته نجات ورکړاوکندهارته انتقال وکړ. ویل کیږی چی ددی خدمت په بدل د « کوه نورالماس چه اوس دانګلیس ملکه الیزابت پخپل سرکی کیږدی اوپری سینګارکوی » په همدی مهال احمدخان ته مسترد او وسپارل شول اوبیرته دافغانانوپه لاس راغی.

وروسته په کندهارکښی دافغانی ټول قومونواو قبایلومشرانوجرګی دشیرسرخ په زیارت کښی جوړه شول او له اوږدی خبری اتری او بحثونه په پایلوکی د نامتو افغان روحانی صابرشاه کابلی لخوادغنمودشین خوشی داحمدخان په پګړی «دستار»کښی ولګول شواودپاچاپه توګه وټاکل شول او ټول ورته بیعت وکړل، حاجی جمال خان بارکزایی دبارکزیودقبیلی ځواک من مشر چی بانفوذه او دپوه اوتدبیرځخه خاوند و نوموړی ته خپل ملاتړاعلان وکړ.

احمدشاه ابدالی وروسته له دی نه چی خپل قدرت او پاچاهی ته ټینګښت او انتظام ورکړپه دی فکرشواوتصمیم ونیول چی لومړی دهرڅه نه بایددافغانستان هغه خاوری اومناطق چی د دوه پیړیو په اوږدوکښی دغاصبو اجانبو په لاس ورغلی ودبیرته یوځای ګیدولودپاره اقدام وکړی اوزیادترپام هغی سیمی ته متمرکزوکړکوم چی دسند شی ساحل واقع و او افغانان پکښی میشته اوهستوګنه درلود. هدف یی دا وچی دغی ایالات باید فتح شی اودافغانی مختلفو قبایل بیرته یوځای، متشکل او یوموټی اودکندهارمرکزی حکومت ته تابع شی. نو پردی بناء لومړنی لښکر کشی پردی سیموپیل شول اووروشته ترهندوستان «دهلی» پوری پرمخ لاړاودافغانستان أزاداوخپلواک، یوموټی خلک اوارضی بشپړتیا ،طبعی اوسیاسی حدود بیرته احیاء اویوځای کړی .دی پنځه ویښت کاله پادچاهی وکړ اودافغانستان پتمن قدر پیژندونکی خلک او تاریخ له خوا د نیکواو بارزو خصوصیاتو، صفتونو او کارناموپربناء د«دردران» د ملت بابا او اعلیحضرت احمدشاه بابا القاب او ویاړوګټل.

نه یوازی خپله احمدشا بابا د خلکواو تاریخ په زړونوکی دقدروړځای وګټل، بلکی د اعلیحضرت بابا دهمکارانوپه قطارکی دنمونی په ډول دحاجی جمال خان دبارکزیودقبیلی رییس اومشر چی داحمدشاه بابا دمشاورپه حیث ډنده ترسره کوله دښایستوب، خیراندیشی اوله خپل شخصی او قومی ګټی دملی اوهیوادګټی اومصلحتونونه ترجیح ورکول. ددی او د دوی دتیم دبارزوصفتونو له برکته وچی دافغان ولس اوهیواد پټ، عزت اوشتون بیرته احیا شول چی تاریخ په ډیردرناوی سره پخپل زړه کی ثبت او یاد کړیدی چی اوس افغان ملت او افغانستان واقعاً پردوی او صفتونو او کارنامویی ویاړی، یعنی برعکس لکه نن چی هڅی روانی دی چی له بدنامو، معامله ګرو او پردی ایجنتانونه تصنعی او کاغذی اتلان جوړکړی. هغسی نه و، خلک او تاریخ خپل داوری او قضاوت لری.

د تاریخ په حواله د نونلسمی او شلمی پیړیوپه اوایلوکی داروپایی قوتونوپراختیاغوښتنونکوظالمانه یرغلونه او بیرحمانه تیری داسلامی نړی فرهنګی اوسیاسی شته والی ته ترتهدیدلاندی نیولی وو، او داسی وښودله چی ګویا کی دزمان په تیریدوسره أخرنی مستقل او ازاداسلامی هیواد دنړی د سیاسی نقشی نه باید پاک شی. پدی لړدنونلسمی پیړی په اواخرکښی افغانستان د خطرناکی وضعی سره مخامخ شول، هغه هم پداسی مهال وچی روسی اوانګریزی



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

امپراتوریګانی دمینځنی آسیایی ملکونو خواته دپرمختګ په حال کښی وو. دا خطرافغانستان ته ترهغه مهال تهدیداوه چی دغه دواړه استعماری پراختیاغوښتونکو غاصب ځواکونه دافغانستان دخاوری په واسطه له یوبل نه جلا کیده.
پدی وخت کښی انګلیسان د«کمپنی هند شرقی » ترنامه چی په بنګال اودهند په زیات قسمت کښی نفوذ اچولی وو او یقیناچی داحمد شاه بابا د نقشواو پلانونوسره مخالف و او په دی لته کښی شول چی احمدشاهی نفوذ لنډ او شنډ کړی.
پدی کښی شک نشته چی احمد شاه بابا درانی دافغانستان دسدوزایی دسلالی بانی او بښت ایښیدونکی د مسلسل لښکرکشی او دپانی پټ دجګړی بری او فتح په هند کښی دفتحوحاتولاره پرانیستله او په اتلسم پیړی کښی د افغانی شهامت او قدرت د اعلان په ځیردهنداوافغانستان په تاریخ کښی ثبت کړ.

وروسته له احمد شاه بابانه د دی ځوی تیمورشاه په ۱۷۷۳م کال کی پاچاهی ته ورسید. دی دشرقی او غربی مورخینوله خوایو باکفایت پاچا ویل شوی دی. دی کله چی قدرت ته ورسید شپږویښت کلن وو، او دخپل پلار د زمامداری په دوران کښی په محارباتوفعاله ونډه درلود او د نظامی فنون ډیر تجارب ترلاسه کړی و، او په اداری چاروکی هم د پوه او هنردکمال خاوند و. کومی سیمی چه د پنځه ویشت کاله داحمدشاه بابا پاچاهی ترقلمرواو حکمروایی څخه قراردرلود، تیمورشاه په ښه شان سره اداره اوساتنه یی وکړه او د کل په توګه اوضاع ددی د زمامداری په دوران کښی ډیرآرام او با امن و. په اداری تشکیلاتوکښی تغییرراوست، نوی پستونه اومنصبونه ایجادکړاو مختلفوسردارانوته په مختلفوچاروکی موظف اوګمارل. تیمورشاه دځینولاملونوپر بناءً خپل امپراتوری پلازمینه له کندهارنه کابل ته انتقال کړ، ځکه چی کابل د کندهار په اند مرکزیت او دهیوادپرلویدیځ اوشمالی سیموکی حاکمیت درلود اوله بلی خواختیځ ته نږدی واقع شوی دی.
ګنداسنګ پخپل اثرکی «۱» دمیلسن ( mallson history of Afghanistan ... )په حواله لیکی :چی تیمورشاه یوله هغه قلیلی فرمانروایانوڅخه دی چی خپل هیواد په ډیرښه شان اداره کړیدی. همداسی فرانسوی (فیریه) خپله عقیده څرګند کړیدی چه دتیمورشاه اړوند ټولومعاصرامراءوپدی متفق اواعتراف کړی دی چه تیمورشاه ډیرعالی اودستاینی وړشخصیت ، او د ذکاء او فعالیت په تناسب ډیرښه شجاعت او ثبات درلود، اوله همدی لامله پلاریی دی ته د نوروزامنوپه نسبت دقدامت اولمړیتوب حق ورکړ. کومی ستراتیژی چه دی په خپل مخ کښی نیولی و دقومی مشرانود منفی قدرت او نفوذ د مخنیوی دپاره د امپراتوری نظام د تعمیم بخښلوپراساس او دیوډول ملی استقرار راوړلو پربناء متکی وو. خوڅرنګه چه وروسته ښکاره شول چه دافغان ملت وضعیت د دی تحول دپاره مستعد اومساعده نه و چه ومنی اوقبول یی کړی.
له بل پلوه باید زیاته شی چی پدغه وخت هندی حکومت او کمپنی شرق الهند دهنداو سکهانو په لویه  هیواد په پنجاب کښی او دایران نوی قاجاری جدیدالتاسیس سلطنت هریوه په موقع او د فرصت د ترلاسه کولو او استفادی سره د افغان امپراتوری په خاوری سترګی نیولی و او په دی لاره کی په یولړپټه فعالیتونولاس پوری کړی و. برسیره پردی دروسی تزارپال «pou »چی دپطرکبیرنصیحتونه او هیلی د جنوب د آزادو ګرمو اوبورسیدلوته په غوږونواوزړه کی درلود د یوډول خاصه مینه اوعلاقمندی سره د ختیځ مسایلو او په خاصه توګه د هند په هکله وښودله. چه پد ی صورت په افغان امپراتوری سرحداتو کی د حدودو د امنیت تامینولو د پاره یو مطمین تدافعی ستراتیژیو ته ضرورت محسوس کیده، خوسره له دی چی تیمورشاه د خپل پلارپه ځیرجګړی او لښکرکشیوته اړنشواو نه تمایل یی درلود ځکه چی د یوی خوا د دی اداری سیستم د امپراتوری په شکل پوخوالی ته نه و رسیدلی او له بلی خوا د اردو او نظامیانو د ښوونی او روزنی د پاره کوم درسی او تعلیمی موسسی وجودنه درلود، مهارت او تجربی ګټل یوازی د جګړی د ډګرله لاری نه منحصرو چه دا مسالی د چنګی او مسلکی مهارتونو او قابلیتونو د نه لوړیدلو سبب ګرځیدله، چی د سیاست او ستراتیژی له نظره د دا دوه موضوع په مینځ کی د تناسب نښتوالی نا مساعد تلقی کیدله، خوله دی حالت سره سره د تیمورشاه فطری او ذاتی پوخوالی، کارپوهی او توانایی ښکاره کوی چی خپل حاکمیت او د امپراتوری حدود او قلمرو په ښه شان او آرامه توګه حفظ وکړ او په هیچ وجه باندی حاضر نشو او نه پریښود چی څوک د درانی امپراتوری په قلمرو کښی دبی امنی او خودسری طبل ووهی. چی د دی د ژوند ترپایه پوری په هیواد کی امنیت تامین او سرحدات محفوظ وو.

پس له تیمورشاه نه شاه زمان په قدرت ورسید. د تیمورشاه د اولاده زیاتوالی چی د مورخینولخوادوه ډیرش تنه ذکر شویدی سبب شو چه هیواد یو ځل بیاد ژوری سیاسی او نظامی بحران سره مخامخ شی. د تیمورشاه د تعزیه داری مراسم لاختمه شوی نه وچی افغان ولس او افغانی سرداران د پاچا د انتخاب په پرابلم کی مواجه شول. د شهزاده ګانوپهه مینځ کی د پاچا د ټاکلو په سردعوی شورماشور او یو لړمشکلات رامینځته کړل. ترڅو چی د سردار پاینده

---



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

خان بارکزایی د حاجی جمال خان بارکزایی ځوی تر مشری جرګه دایره شول اوشهزاده زمان دزیات رایودتر لاسه کولوپه نسبت دپاچا په صفت انتخاب شول اونور ورونه یی چی په کابل و ټولواسیران اوبندیان کړل خو بیا هم شاه زمان یوموده د سلطت له مدعیانوسره په جنجال اخته وو.

پدی وخت کی په نړی کی لوی سیاسی اوټولنیزحوادث اوبدلون صورت وموند. دافغانستان په ګاوندی کی نوی سیاسی وقایع رامینځته شول. دشاه زمان دپاچاهی نه څلور کاله دمخه دفرانسی انقلاب اروپا ته ولړزول. شپږکاله وروسته په فرانسه کی نوی دولت دناپلیون بناپارت ترقیادت لاندی تشکیل شواویولړنوروتغییرات او بدلونونه د افغانستان په ختیځو سیمه یعنی دهند په هیواد کی واقع شوی و. پدی حال کی چه د ۱۸۰۳م د انګلیسی تاجرانولشکردهندوستان پلازمینه اوآګره ته اشغال کړی وو. د انګلیس دولت تصمیم درلود چه دهندوستان په سرتاسرکی خپله استعماری سیطره او قبضه ټینګه کړی. لهذا « مارکی ولزلی » داستعماری پالیسی پربنست دهند هیواد په اقتصاد کی نوی روش اوسیستم داعانی یا مرستی( subsidia of helping ) ترنوم ایجادکړاوپدی وسیله د برصغیریا دهندوستان هیواد دارایی لوټ کړ.

دمارکی ولز دموضوعه سیستم استعماری ګټی په دی کی نغښتی وو چی لمړی هغه مطلوبه هیواد دخدعه یا توری ترسیوری لاندی غصب شی. ورپسی کوم لښکر چی دسر کوبی دپاره په مغصوبه هیوادځای پرځای اومیشته شول بیا دغصب شوی هیواد هغه لاس پوس او ګوداګی زمامداردغاصب لښکرخرچ اومصا رف اود خپل خلک اوهیواد دسرنوشت اوداخلی اوبهرنی واک اواختیاردمادام العمردپاره د انګلیسانوپه لاس ورکړی او تردی پلمه اونامه چه ددشمن یاغاصب لښکرد دوی ملک اومال اوځان ، ناموس ، خاوری اوخپلواکی حفاظت اوساتنه کوی باید چی مشکوراواحسان مند هم وی. همدامثال او پالیسی همدا اوس دامریکاییان، انګلیسان او ناتوغاصب قواوپه افغانستان کی پر مخ بیول کیږی.

پدی ترتیب داسی ښکاری کله چی زمانشاه اقتدارپه لاس واخیست انګریزان دهند په مختلفوعلاقواومنطقودخپل سلطی او قدرت دتامینولواو ټینګولودپاره تلاش درلود.پدی خاطردهنداکثره حکمرانان دافغان امپراتورپه سفرسټرګی په لارنیولی واو برسیره پردی پدی مهال دهند مسلمانانوهم په دهلی کی دیواسلامی حکومت په مینځته راتلوطرفدارو. اوهیله یی درلود چه دهندګوره ګانی دولت قوی شی اویا دهلی دافغان امپراتورپه لاس ورشی اودهنداداره مستقیما په لاس واخلی. له بلی خوا انګریزی استعماردارو‌پایی طبیعت دلرلوسره دنیم قاری دخلکودمزاج سره هم په هیڅ صورت سازس نه درلود اواکثریتو دپاره دزغملووړنه وو، او له بلی طرف نه دسکهانواومرهتووتل اوکوم ظلمونه او ناروایی جی پرخلکو کی کیدله د تحمل وړنه وو او شاه زمان د افغان امپراتوردوی دپاره یوازنی هیله اوامید تلقی کیدله «۱».

افغان لیکوال جلالی پخپل اثرکی دجان ویلیام کی «jhon, w, kye»له قوله لیکی: دبریتانیی دامپراتوری ټول دښمنانوپه هند کښی ډیر اشتیاق سره کابل ته سټرګی نیولی واو هیله درلود چی داسلام ناجیان له دی رمانتیک خاوری له غرنی سیمو له لاری هند ته ورسیږی .دهندی مسلمان شهزاده ګانو په عروق کی وینه په جوش راغلی وو ، پرله پسی بلن لیکونه افغان امپراتورته واستوله ،مالی اونظامی مرستی ژمنه هم ورسره کړی اودی ته تشویق کوله چی دیواسلامی لوی لښکرپه قیادت ډیرزرراشی او دلښکر درارسیدلونه یولک کلدارد ورځنی خرچ دپاره ورکوی « ۲»،

اروابنادغبارپخپل کتاب «افغانستان درمسیرتاریخ »کی لیکلی « فریر دزمانشاه په هکله ویلی دی چی:دافغان امپراتورچی پخپل نفس باندی باوری یوځوان، دکلکی ارادی او ټینګ عزم، دشجاعت، ذ کا وت اوبصیرت خاوند و، دی همیشه دخپل آس پرزین کی سپورپښه پررکاب او وروسته له یوجګړی بل جګړی ته تصمیم نیوله ، ځکه چی کورنی او بهرنی اوضاع اواحوال اودسایس دی ته په جګړه کی اړکوله.

همدارنکه قاضی عطاالله پخپل کتاب «دپښتوتاریخ چه۱۹۴۷په پیښورکی چاپ شویدی دزمانشاه په اړوند داسی لیکی: الفنستون چه دشاه شجاع«۱۲۱۷= ۱۸۰۹ » په دربارکی د انګلیسانوسفیروروسته له بلنی په راولپندی کی چه دشاه شجاع د کورنی په مقرو زمانشاه سره کتنه کړی و داسی لیکی « یو وخت چه دزمانشاه نوم اوشهرت له هندوستان نه ترایران خپاره شوی واو ددی لیدوته لیوال وم دجولای په لسمه ددی دخیمی چه دیو ګټ لاندی دغالیو پر فرش باندی ناست ونوموړی سره می ملاقات کړ، زه ترهغه وخته پوری دشاه په مقابل کی دریدلی وم ترڅوچه ماته دناستی اجازت راکړشو، کالی یی ډیر ساده او عبارت و له تور شال او په سر له وریښمه ګندل شوی «چوخ»خولی څیره یی شاهانه او عمریی دڅلویښتو کالو شا وخواکی ښکاریده، بڼه او اندام او ږیره ییډیر ښکلی و، ړوندتوب یی نه ښکاریده دسټرګی تورولی پاټی و اودخبرو په مهال مخاطب سټرګو ته کتل او پام کوله. له ما دجګړی اخبار واخیست او دافغانستان پر واقعاتو بحث کوله او په پایله کی وویل چی هیله ده چه واقعاتو زمونږ خوا اوګټه شی ».

غباربل ځای کی دی هکله زیاتوی چه دافغانستان خلکوهم دتیمورشاه دنورو زامنوپه نسبت شاه زمان سره ډ یره مینه او احترام درلود.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغه مهال چی افغان امپراتورزمانشاه درانی دمخکنی غوښتنی پربنا په هند کښی دخپل پلانونواونقشودپلی کیدواوپرمختګ دپاره تلاش اوکوښښ درلود، اروپایی قدرتونوهم په دی هڅه کی وچی دغه طلایی تاج «هند» دانګلیسانوله لاسه وباسی. پدی ترتیب دهند مسالی دنړیوال سیاست دایری ته داخل شول.
ناپلیون بوناپارت دفرانسی امپراتورمصر«ejypt» ته رسیدلی واودمینځنی آسیا له لوری دهند دنیم قاری دپرمختګ په هڅی کی وو. پدی ضمن کی دروسیی تزارپال«poul» چی دپطرکبیردجنوب دآزادواوبودرسیدونصایحوپه غوړګونوکی درلوداودختیځ په مسایلوکی په خاصه توګه دهند په هکله خاص نظراوعلاقمندی درلود دواړو یعنی روسی تزاراوناپلیون دهند درسیدولارموندلودپاره تمایل درلودچه په همدی وجهی سبب شول چی یوبل سره په نږدی تماس کی وشی اود « ۱۸۰۰= ۱۲۱۴» کی دیوګډ اومشترک زیاراو تلاش دپاره دیوپلان د طرحی په هکله دهند د اشغال دپاره لاس پوری کړ. ناپلیون چی پرخپل اروپایی حریف او سیال یی دهندد ګټلو په صورت کی ځانته یولوی بری وباله، دخپل نقشوپه پلی کولو کی د یولړ لوی اوپراخ فعالیتونوکی لاس پوری کړ. دجنرال ګاردان«garden» دیادداشتونوپه حواله دانګریزی په امپراتوری کی تجارت او صنعت عرصوته زیان رسول او لطمه واردول لمړنی وسلی ووځکه چی دانګریزی امپراتوری عظمت او شان ددی لاری نه مینځ ته راغلی وواوکه داسرچینه وچ شی په یقین سره چی انګلیس دعجزاوماتی سره مخامخ کیږی اود دریابونوحاکمیت او اقتدارله لاسه ورکوی.
عزیزالدین وکیلی فوفلزایی پخپل اثر«دره الزمان»کی لیکی: پرهندوستان کی دلښکرکشیوفکرزما په نظردبحری محاصری فرمان له هغونتایجوڅخه ووچی ناپلیون دانګلیسوپرضد صادرکړی وکه کاملا داسی نوی خامخا دا اقدام هم له هماغه ډول اودرسیدلو په منظور وو « ۱».
ناپلیون هند ته رسیدل ډیراوړد لاری پرمخ درلود چی ددی په مخ ایران اوافغانستان هم واقع شوی واولازم وچی له هرڅه د مخه له سیاسی لاری زمینه داسی مساعده کړی چی هیوادونه د دی پرمخ خنډ اومانع ونګرځی. ناپلیون چی د خپل فتوحاتو په بهیرپه بحری جګړوماتی خوړلی وغوښتل چی دوچی سیمی له لاری دانګلیسانومستعمرواشغال کړی؛ لهذاهندته یوازنی لاری هماغه دنونلسمی پیړی افغانستان و، او یا په بل عبارت کی دی غوښتل چی دمشهد، هرات اوکندهار له ښارونوڅخه هند ته ورننوځی.
په همدی لړناپلیون خپل دوه سفیران یا استاذی «دورک» او «کولنګور» دتزاردربارته واستول اوتزار سره یوتړون«قرارداد» عقدکړ. د دی تړون پربنا فرانسوی لښکردانیوب له لاری باید د روسیی جنوب خواته حرکت وکړی اودتوری بحیری « black sea» او برستین دریاب په شط والګاه سیند کی ورسیږی، وروسته د شط په مرسته ځان په هشترا خان کی ورسوی. پس له هغه نه دپنځوس زره سپاره روسی عساکردمازندران دریاب نه تیرشی اوداسترآباد په خلیج کی پلی شی، دغه لښکرغوښتل چی د « مستوخان» په سرلښکری اوقیادت د افغانستان مشهد ښارته ننوځی او دهرات اوکندهار له لیاری نه د سند په دره کی داخل شی « ۲». پدی اساس ناپلیون دی ته اړوچی دخپل نقشو او پلا نونودپلی کولودپاره دایران اوافغانستان امپراتوری دلښکراو قوتونو د تیریدلوموافقی ترلاسه کړی. پدی مهال چی د ایران د قاجاری دولت د جوړیدو نه یی ډیروخت تیرشوی نه و او دافغان امپراتوری عظمت او قوت له یوی خوا او په هند کښی د انګلیس مخ په زیاتیدو نفوذ او په شمال کښی د روسانو قدرت په مینځ کی قرار درلود؛ د یواروپایی لوی قدرت لکه فرانسی سره بی میل نه و، نو پدی لحاظ د نا پلیون استازو ډیرپه آسانی سره وتوانیدل جی دایران موافقی لاس ته راوړی. ناپلیون د افغان امپراتورد موافقی د لاس ته راوړلو د پاره هم په یولړاقداماتولاس پوری کړ. په ایران کی د ناپلیون استازی دایران د شاه او وزیرانو په وساطت او مینځګړیتوب ځینی مطالبی افغان امپراتورشاه زمان ته وړاندی شول، ولی افغان امپراتور د دوی له غوښتنی نه چی د فرانسوی قوتونو د افغانستان له لاری تیریدنه او امتناع او ډډه وکړه او نه منلو او د دوی نامه بیرته مسترد یی وکړ. خو فرانسویان په ایران کی په یولړبریالیتوبونوته ورسید، مګردا بریالیتوبونه ډیردوام ونکړاو دانګلیس پټ او سری فعالیتونه نه یوازی په افغانستان کی کارګرواقع شول، بلکی د ایران دربارهم انګلیسانوته تسلیم شول، دغه فعالیتونه چی د۱۷۹۹ م کال په ایران کی پیل شو دافغان امپراتورپه کی دپرمختګ د پلان پرمخ لوی خنډ اومانع وګرځید.
پردی بنسټ له همدی ځایه د افغان د باتورولس او د دی خاوری پرضد دسیسی پیل شول. دافغان امپراتورشاه زمان پرهند کی د لښکرکښی آوازی انګلیسانوته په ویره واچول او له بلی خوا د ختیځوحوادث او، د ناپلیون دهند پرضد او دیرمختګ هدف، د انګلیسانودپاره د خطرپه توګه ښکاره کیدله، او په هند کښی بریتانوی واکداران د اساسی چاری په فکرکی وشول او لاس پوری کړ. په لمړنیو پړاونوکی د فرانسویانو او روسانوخطرمجهول لیدل کیده او قاطعیت او کلک تصمیم نه ښکاریده، مګر د هند دهغه پرآشوب او نارامه او ضاع او احوال کښی انګلیسانوته د افغان امپراتورشاه زمان لښکرکشی اوهڅی د لمړنی خطرپه توګه بلل کیدله په همدی علت د انګلیسانواصلی سیاسی فعالیت په ایران کی د افغانستان د لویدیځ سرحدونو د اختلالاتو راپارولو په مقصد متمرکزشول ترڅوچی پدی وسیله د امپراتور د هند په لورد



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پرمختګ فرصت او موقع پیدا نشی. په همدی اړه د انګلیس فوق العاده او خاص استازی په ایران کی« کپیتان مالکم » داسی تبصری کړی وو: « زه د افغان امپراتورشاه زمان درانی ته د انګلیس د پاره د قدرت پرضد یولوی او قوی دښمن بولم او د شاه زمان دښمنی کیدای شی د خپل قوت او بیله هیڅ اجنبی مرستی زیاد شی او د فرصت په موندلوکی په لمړی شیبو پرهندوستان حمله وکړی.غرور، کینه، کرکه او نفرت د زمان شاه په حکومت کی له نورو آسیایی ملکونوڅخه ډیردی او له همدی امله دی چی له هری اروپایی ځواکونو سره ګرچه تړون او موافقی هم کړی به وی بیا هم لوی خنډ او مانع په مینځ کی دی «۱».
کله چه شاه زمان د کندهار نظم او نسق برابر او پلی کړ خپل اوه کلن ماشوم ځوی شهزاده قیصردعبدالله خان نورزایی په نیابت د کندهار په حکومت نوماندکړ او خپله یی هرات ته لاړ.

«دوام لری»


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ